# د بشر د حقوقو دڅار اداره

## " دلسو ډالرو طالب" او د ښځو حقونه
## افغانی ښځی او دبیا پیوستون او مصالحی خطره

## لــــنډیــز

مونږ اوس هم د طالبانو تر ولکي لاندې يو او ژوند مو يواځي د خپلو کورونو ترديوالونو پورې محدود دی... مونږ کار نه شو کولاي. مونږ د خپلو خاوندانو څخه پرته د کور څخه بهر د خپلو خپلوانو د ليدو لپاره نشو وتلاي. زما لوني ښوونځي ته نشي تلاي... مونږ تهديد کيدلو ځکه هغوي ښوونځی پريښود. نو زه به د يو عادي او سوله ييز ژوند د تيريدو څه هيلي او اميدونه ولرم.
--- فاطمه ن. مرکزي ولايت، ۱۸ فبروری ۲۰۱۰

زه يو ځل بيا په تا باندې غږ کوم چې زما ګرانه وروره طالب جانه، دا ستا کور دی، راشه! که ما تيروتنی کـړی وی نو زه ګرم يم او که ګرم وې بيا تا نه پړ کوم.
"ولسمشر کرزی، ۲ جون ۲۰۱۰"[1]

ترټولو لومړی کس له جګړې څخه اغيزمن کيږي؟ جوته ده چې افغان ميرمنې. افغان ميرمنې دي چې خپل کورونه او خپل خاوندان له لاسه ورکوي او بياهم همداميرمنې دي چې کورونو ته يوه مړی ډوډۍ راوړي. نو له همدې کبله افغان ميرمنې د سولې او بياپيوستون خلاف ندي، که چيرې په هغه سره سولې او امنيت راشی، نو ولې نه؟ مګر که چيرې دولت سوله او پخلاينه د پردې ترشا کې... نو بيا به په رښتيا سره هم د ميرمنو وضعيت لاخراب شي.
"سامره حميدي، د افغان ميرمنو د شبکې اجرائيوي رئيسه، کابل، ۱۴ فبروري ۲۰۱۰"

دا د افغان ميرمنو لپاره غمجن وختونه دي، هغوي د جګړې او د سولې د هيلو ترمنځ بندې پاتې دي. د افغانستان په نا ارامه سيمو کې نجونې او ميرمنې ډيرې زيان منونکې دي: د اورپکو او هوايي بمباريو لخوا وژل کيږي او ټپې کيږي، سيمه ييز عزت او پت يې په هغو يرغلونو کې تر پښو لاندې کيږي کوم چې نړيوال ځواکونه د شپې لخوا ترسره کوي، ناامني يې د تګ راتګ په وړاندې خنډ جوړ کړی او د ډيرې ميرمنو خاوندان او ډوډۍ ګټونکي له لاسه ورکړي. اورپکو د تل لپاره د ميرمنو د زده کړې د حقونو څخه انکار کړی دی، په ښوونځيو باندې يرغل کوي او د ښوونکو او زده کوونکو په وړاندې دتهديد څخه کار اخلي. هغوي ميرمنو ته دا حق نه ورکوي چې په عادي ډول خپل ژوند تير کړي، او هغه ميرمنې تهديدوي او حملې وربانديې کوي کومې چې د کور څخه بهر کار کوي.

[1] د افغان ولسمشر وينا چې د افغانستان د ملي ټلويزيون له لارې په ۲ جون ۲۰۱۰ خپره شوې، (ژباړه يې د ډپلومات له لوري د ايميل له لپاري د بشر د حقونو د څار اداري ته رسيدلې، ۱۱ جون ۲۰۱۰)

افغان میرمني د شخړې پاې ته رسیدل غواړي. مګر لکه څرنګه چې له طالبانو سره د سولې خبرې ګرمې رواني دي، ډیری میرمني پدې اند دي چې میرمنې به ډیرې پکې زیانمني شي. د طالبان پخلاینه چې د میرمنو څخه د تیښتې او نفرت پالیسي لري او د هغو په وړاندې ډیر له تاوتریخوالي څخه ډک دي، د میرمنو اندیښني راپارولي دي او پدې ویره کې دي چې کیداي شي هغه حقوق او آزادي هم له لاسه ورکړي چې پدې وروستیو کې یې ترلاسه کړي دي. د حزب اسلامي (ګلبدین) سره د معاملې کولو خبرې چې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي څخه ډک نظر لري، هم د میرمنو اندیښني راپورته کړي دي. د طالبانو سره د سولې لپاره د ځینو پرمخ تللو مذاکرو هڅې چې اورپکي د "غیر ایډیالوژیک" په توګه بیا په ګوته کوي، او هغه وختونه له پامه غورځوي چې په میرمنو باندې د طالبانو د رژیم پرمهال تیریدل، دا کار د نومورو اندیښني لاډیروي.

د طالبانو د رژیم د نظامي راپرځیدني څخه نهه کال کیږي، اوس د افغانستان حکومت د ولسمشر حامد کرزي ترمشرۍ لاندې د طالب اورپکو د رهبرانو او نورو جګړه مارو ډلو سره خبرو اترو ته وده ورکوي. له یوې داسې جګړې سره مخ کیدل چې پای یې هیڅ ترسترګو کیږي، نه افغان ولس د زرګونو ملکي خلکو د تلف کیدو له امله هره ورځ تربلې له دولت سره واټن پیدا کوي او د همکارو هیوادونو لخوا ډیر زور پدې باندې دی چې د افغانسان څخه د وتلو په استراتیژۍ باندې کار وشي، دولت او د هغه نړیوال متحدین سولې ته د اړتیا په لیدو باندې ډیر سره موافق دي. په لندن کې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس (د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ میاشت) کې افغان دولت دا ملاتړ ترلاسه کړ چې د مخالفینو سره یووالي باندې باید د یوه ځانګړي تمویل شویو پروګرامونو له لیارې کار وشي. د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشت کې افغان دولت د سولې یوه مشورتي جرګه راوبلله، او د پخلاینې او سولې د راوستو لپاره یې مناسبې او د پام وړ دندې ورکړې (جرګه د ځینو مخالفو سیاستوالو او طالبانو له لوري له مخالفت سره مخ شوه). د ۲۰۱۰ کال د جولای میاشت کې به د کابل کنفرانس د لندن د کنفرانس موضوعات پرمخ بوځي، او د تمویلونکو لاډیرې ژمنې به له ځانه سره ولري ترڅو په افغانستان کې د مخالفو سره د سولې پروګرام ښه پرمخ ولاړ شي.

پدې رپوټ کې د حقونو څخه د هغو روانو سرغړونو په تفصیل سره یادونه کیږي کوم چې پدې تیرو څو کلونو کې د طالبانو او حزب اسلامي (ګلبدین) د ډلو له لوري په هغو سیمو کې رامنځته کیږي کومې چې د هغوي تر ولکې لاندې دي. همدرانګه د افغان میرمنو هغه اندیښني هم پکې رانغاړل کیږي کومې چې د طالبانو او نورو مخالفو ډلو سره یې د معاملې په خاطر لري چې د " بیاپیوستون" (هغه پروګرامونه چې تیټ پوړي جنګیالي دې ته هڅوي چې له جګړې څخه لاس په سر شي) او "پخلاینې" (د طالبانو د قوماندانانو سره د سولې مذاکرې) ترعنوانونو لاندې راځي، او همدارنګه سپارښتني وړاندې کوي چې پدې ډول نوښتونو کې باید څه ورکړه شي ترڅو د میرمنو حقونو پکې خوندي وساتل شي.

ددې رپوټ لپاره د بشر د حقونو د څار اداري یو شمیر هغه میرمنې چې کار کوي او هغه چې د اورپکو ترکنټرول یا ډیر ترولکو لاندې سیمو کې ژوند کوي، د مرکو لپاره ټاکلي دي. په ډیرو دغو سیمو کې میرمني او نجوني پدې باندې پوه شوي چې همغه د طالبان د ۱۹۹۶ څخه ۲۰۰۱ پورې د طالبانو د ظلم واکمني بیرته راګرځیدلي ده. پداسې حال کې چې دا د هغو میرمنو چې مرکې ورسره شوي، د خبرو څخه داسې معلومیږي چې دا له مخکې څخه ټینګې سنتي او دودیزې سیمې دي او د هغوي مرکو دا هم وښوده چې ډیرکله اورپکو د هغوي په ژوند باندې ډیر اغیز کړی دی. د طالبانو د راپرځیدو څخه وروسته ډیری پدې اند ؤ چې هغه اساسي حقوق چې له ډیره وخته ترپوښو لاندې ؤ، بیرته ورکول شول او خوندي دي. هغوي بیرته خپل کارونه پیل کړل، خپلې نجوني یې ښوونځیو ته ولیږلې، رایې یې ورکړې او ځینې ان سیمه ییز سیاست ته ورودانګل. له هغه وخته چې د ۲۰۰۶-۲۰۰۵ کلونو کې طالبان او ځینې نورې جګړه مارې ډلې بیاراڅرګندې شوې، د میرمنو حقونو په چټکۍ سره بیا ترحملې لاندې راغلل.

له یو ډیر شمیرۍ میرمنو سره چې مونږ مرکې وکړې، تهدیدونکي ټیلیفونونه او لیکونه یې ترلاسه کړي دي. ځینو باید خپلې لونې د ښوونځیو څخه ایستلې واي، ډیرو نورو باندې زور اچول شوی چې کارونه پریږدي او په خپل تګ راتګ کې کموالی راولي.

د بېلګې په توګه اسماء د هیواد د سویلي سیمې په یو ولایت کې د نجونو د ښوونځي ښوونکې وه، ترهغه پورې یې کار کاوه چې د طالبانو له لوري یې یو تهدیدونکی لیک ترلاسه کړ، په لیک کې داسې راغلي:

"مونږ تاته اخطار درکوؤ چې خپله د معلمی دنده زرترزره پرېږده که نه نو د ماشومانو سرونه به دې له تن څخه بیل او کور ته به دې اور واچوؤ"

د هیواد د سویل ختیځ ولایت څخه فرشته س مونږ ته داسې وویل:

"زما په سیمه کې طالبانو د شپې لیکونه (هغه لیکونه چې اخطار او تهدید پکې شوی وي) وویشل، او اخطار یې ورکړ چې میرمنې د کور څخه بهر د کار لپاره نشي تلاي. که څوک بهر ځي او کار کوي، وبه وژل شي، دې خبرې زه او زما کورنۍ ودار کړو او له همغه وخته وروسته ما خپل ټول وخت په کور تیر کړی دی"

د طالبانو له لوري په میرمنو باندې حملې په ځانګړي ډول هغه میرمنې چې کار کوي، یوه عامه خبره ده. د مثال په توګه، د ۲۰۱۰ د اپریل ۱۳ باندې په کندهار ولایت کې یوه ځوانه میرمن چې د یوې خیریه ټولنې سره یې کار کاوه، په ګولیو وویشته چې لومړی ټپي او وروسته یې د خپلو ټپونو له امله ساه ورکړه. د هغې د مرګ څخه څو اونۍ وړاندې هغې داسې ټیلیفونه ترلاسه کړل چې باید کار پرېږدي که نه نو وبه وژل شي. څو ورځې وروسته، یوې بلې میرمنې چې د یوه نادولتي نړیوال سازمان سره یې کار کاوه، یو ټلیفوني اړیکه ترلاسه کړه چې ویل یې چې په همغه لست کې دې نوم دی او ورته یې ویل چې دا ځل به ووژل شي ترڅو چې له کفارو سره کار پرې نږدي. پداسې حال کې چې هغه نارینه چې د دولت سره کار کوي، هم د طالبانو له ګواښ سره مخ دي، مګر میرمنې لا ډیر له خطر سره مخ دي.

په تیرو څو کلونو کې د افغان ولس ډیرې غښتلې میرمنې ترور شوي چې د هغو له ډلې څخه د ولایتي شورا غړې او د سولې فعاله میرمن ستاره اڅکزی، د پولیسو پخوانی قوماندانه ملالی کاکړ، ژورنالسته زکیه زکي او د میرمنو د چارو رئیسه صفیه عمه جان دي.

میرمنې د پارلمان د غړو په ګډون چې د خپلو حقونو لپاره خپل غږ پورته کړي، معمولاً د ګواښ او تهدید سره مخ کیږي. ددغو ویرو کچه به د هغو لپاره ډیره لوړه وي کوم چې په سیاسي ډګر کې خپلې ویرې د طالبانو د بیاراڅرګندیدو کې په ډاګه کوي، پداسې حال کې چې د هغوي رهبران د هغو خلکو په ډارولو او وژلو کې عادت دي کوم چې په هغوي باندې نیوکې او د هغوي مخالفت کوي. ځینې بیا له دې څخه په ویره کې دي چې که چیرې طالبان او یا نورې د میرمنو په خلاف ډلې په دولت کې راټولې شي، د میرمنو حقونه به تر پښو لاندې شي او لاډیر به له ګواښ سره مخ شي. لکه چې د میرمنو د حقونو یوه مخکښه فعاله وایي:

"زما په اند دا به د میرمنو لپاره یواځې ډیر فشار نه بلکه له ژوند څخه لاس په سر کیدل وي. کله چې طالبان قدرت ته ورسیږي، هغوي به د خپل موقف د ساتلو او خلکو په اړه د فکر ډیرې لارې چارې پیدا کړي. د هغوي لپاره زما په شان فعالې غټه ستونزه ده، مونږ باید دلته ونه اوسو ځکه چې د هغوي لپاره مونږ ستونزه یو.

ټولې هغه میرمنې چې ددې رپوټ لپاره ورسره مرکې وشې، ددې پلویانې وې چې شخړه باید د مذاکرو له لارې هواره شي. مګر هغوي دا هم وویل چې که چیرې طالبان د قدرت یوه برخه ترلاسه کړي او یا د سولې د معاملې په ترڅ کې په رسمي ډول په ټولو ولسوالیو یا ولایاتو باندې حکومت وکړي، نو بې له شکه د میرمنو د حقونو پایلې به ډیرې خرابې وي.

افغان میرمني پداسې یو چاپیریال په خپلو حقونو باندې ټینګار کوي چې له مخکې نه جګړه ییز ښودل شوی دی. د میرمنو د حقونو په اړه هرډول کتنه (بررسي)، او په حقیقت کې د اوږد مهالي سولې او پخلاینه هیلې، باید د افغانانو د هغې رهبرۍ په رڼا کې ترسره شي په کومه کې چې دودیزه نرواکي او د میرمنو څخه کرکه په افغاني سیاست کې حاکم دی. د افغان دولت ډیری وخت د کلیدي دولتونو او بین الملل ادارو په بې بنسټه توافق سره اوسني او پخواني جګړه ماران پیاوړي کوي، ځینو ته دولتي دندې ورکوي او پاتې نورو ته د هغو جرمونو څخه معافیت چې مرتکب شوي دي. د بدنامو جنګي قوماندانانو سره د پردې ترشا معاملو په حکومت او پارلمان دواړو کې یې ډلې جوړې کړي چې د میرمنو د هغو آزادیو او حقوقو پرخلاف دي له کومو څخه چې هغوی همدا اوس برخمنې دي. لکه چې یوې فعالې میرمنې مونږ ته وویل: "مونږ میرمنې نه ټوپک لرو نه تریاک او نه ټوپک سالار یو، همدا وجه ده چې مونږ د تصمیم نیونې په بهیر کې شامل نه یو."

هغه اندیښنې چې وایي د بیا پیوستون او پخلاینې په پایله کې به میرمنې زیانمنې شی، ددې لپاره دي چې میرمنې په افغان دولت باندې دومره باور نلري چې د هغوی حقوق به په ښه توګه خوندي وساتي. کرزي پدې اړه یو روښان ریکارډ (شالید) لري چې د سیاسي ګټو په موخه د خلکو حقوقو ته پام ونکړي او سترګې ورباندې پټې کړي، لکه یو روښانه مثال یې د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې د اهل تشیع د شخصیه احوالو د هغه قانون (په کوم کې چې د اهل تشیع میرمنو ډیرو حقوقو څخه انکار شوی لکه د ماشوم حضانت او هغوی د تګ راتګ څخه منع شوي دي) توشیح ده چې په هغه کې ښځو ته ډیر د تبعیض په سترګو کتل شوي. او بل مثال یې د دوه محکومو ډله ییز جنسي تیري کوونکو ډلو معافول دي.

لکه څرنګه چې میرمنې د طالبانو د بیاپیوستون او پخلاینې څخه ژورې اندیښنې لري نو دولت هغوی ته په دې اړه ډیر لږ ډاډ ورکړی دی. د ۲۰۱۰ کال د اپریل په میاشت کې د اقتصاد وزیر ښاغلی عبدالهادي ارغندیوال چې د حزب اسلامي یو مشهور رهبر دی په یوه ناسته کې چې د میرمنو لخوا جوړه شوې وه، وویل چې میرمنې باید د سولې د راوستو لپاره خپلې ګټې قرباني کړي.

په ډیرو برخو کې دولتي چارواکو ډیرې کمزورې ژمنې وړاندې کړي او وایي چې یوازې هغه کسان د سولې او پخلاینې په بهیر کې ګډون کولای شي چې له القاعده ډلې سره تړاؤ نلري، تاوتریخوالي څخه مخ اړوي او د افغانستان اساسي قانون ته غاړه ږدي. د اساسي قانون ۲۲ ماده د ښځې او نارینه مقام ته درناوی کوي. مګر بیاهم اساسي قانون پدې اړه پوره تضمین نه وړاندې کوي، ځکه چې ډیری وخت هغه په پام کې نه نیول کیږي او د اصلاح او درملنې لپاره ډیرې لږې لارې چارې دي. یو څرګند مثال یې د اهل تشیع د شخصیه احوالو د قانون پاس کول دي په کوم کې چې په څرګند ډول د میرمنو د حقونو څخه سرغړاوی شوی دی. یوې فعالې وویل، "اساسي قانون ماته ډاډ نه راکوي. طالبان اساسي قانون نه مني... طالبان پداسې یوې ایډیالوژۍ پرمخ ځي چې د میرمنو د حقونو پرخلاف ده."

دا لازمه او ضروري ده چې افغان دولت باید په هره مذاکره او بحث کې د میرمنو بشري حقونو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي، چې د زده کړې، کار کولو، روغتیایي پاملرنې، عدالت ته د لاس رسي او په سیاسي ژوند کې د ونډې حقوق. دا هغه حقوق دي چې "د مذاکرې وړ ندي"، او هره ډله چې ددولت سره پخلاینه غواړي باید ورته درناوی وکړي او خوندي یې وساتي.

د مذاکرې په میز کې د میرمنو رهبرانو پوره ونډه به دا ډاډ رامنځته کړي چې د هغوی حقوق تر پښو لاندې نه کیږي. په حقیقت کې یوه ترټولو مهم ډاډ چې د میرمنو د حقونو د له منځه تلو څخه مخنیوی کوي، داده چې میرمنې د دولت په ټولو برخو او د سولې په بهیر کې پوره ونډه ولري. د مدافعې د ډیرو هڅو په پایله کې د ۲۰۱۰ کال د جون د میاشتې په ملي مشورتي جرګه کې د میرمنو سره د استازیتوب د ۱۰٪ ونډې ژمنه شوې وه، مګر بیاهم هغوی ۲۰٪ ونډه لرله. د میرمنو د حقونو ډیری غښتلې فعالې پدې اند دي چې د هغوی د استازیتوب ونډه اوس هم ډیره ټیټه ده او دې ته هم اشاره کوي چې په نوموړې جرګې کې ۲۸ کمیټې وې چې یوازې د یوې کمیټې رئسه میرمن وه. د میرمنو یوې فعالې د بشر د حقونو د څار ادارې ته وویل: "دا ستونزمنه وه چې له ځینو بنسټپالو،

جنګ سالارانو او مذهبي علماؤ سره مخ په مخ کښينو او د میرمنو د حقونو په اړه خبرې وکړو.مګر بیاهم په نوموړې جرګې کې ۱۰ تر ۱۲ پورې میرمنې په هره کمیټې کې موجودې وې، مونږ اوس هم دلته یو. دا یوه لویه موقع وه" ولسمشر کرزي او نورو ډیرو لوړ پوړو سیاستوال د میرمنو د ګډون د اړتیا په اړه خبرې وکړې.

مګر بیاهم وروستي پریکړه لیک دا تضمین نه کړ چې په تطبیق کوونکو ادارو کې به میرمنې په لوړه کچه تصمیم نیونو کې، که بیاپیوستون یا پخلاینه وې، شاملې شي، لکه په لوړه کچه د سولې جرګه یا د سولې، پخلاینې او یا بیا پیوستون پروګرامونو لپاره ګډ دارالانشاء. همدارنګه میرمنې په دولتي ادارو او وزارتونو کې چیرې چې ډیرې مهمې پریکړې ترسره کیږي، ډیر استازیتوب نلري. ترڅو پورې چې دا توپیر له منځه ولاړ نشي د میرمنو د حقونو تړپښنو لاندې کیدل به ډیر عام وي.

سره له دی چې د افغانستان د نړیوالو ملاتړو لخوا د میرمنو د حقونو د خوندي ساتلو ژمنې شوي دي، مګر بیاهم دا ویره ترسترګو کیږي چې کیداي شي هغوي هم د افغانستان څخه د وتلو په استراتیژۍ کې د میرمنو حقونه قرباني کړي. پداسې حال کې چې د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیره هیلاري کلنټن د میرمنو د ځینو فعالو لخوا پدې وستایل شوه چې په ټینګار سره د افغان میرمنو د وضعیت یادونې کوي. ولسمشر بارک اوباما د ۲۰۰۹ کال په وینا کې د میرمنو د حقونو په ذکر کې پاتې راتلو سره، افغان میرمنو ته غمونکی سګنال ورکړ.

د امریکا په متحده ایالاتو، کاناډا او انګلستان په څیر هیوادونو کې کورني تماشاچیان کوم چې په افغانستان کې سرتیري لري او د ډیرو کلونو په اوږدو کې یې د پام وړ مرګ ژوبلې لیدلي، دا به په اسانی سره ونه مني چې د ماتې ورکولو د خبرو څخه د طالبانو د مشرتابه سره د سولې منلو ته وګرځي. ددې لپاره چې پدې تریخ وضعیت کې بدلون راولي، ددغو حکومتونو نظامي او ملکي چارواکي په هغه څه ټینګار کوي چې د اورپکو غیرایډیالوژیک طبعیت مجسم کوي. د "لس ډالرو طالبانو"، سرتیرو، "عمل پالو" یا "غیرایدیالوژیک انګیزو لرونکو"، چې د پیسو یا نورو اقتصادي امتیازاتو لپاره جنګیږي نه د دیني یا ایدیالوژیک دلایل په خاطر، د خبرو محور جوړوي. ډګرجنرال ګرام لمب (Graeme Lamb) د نړیوالو ځواکونو د بیا پیوستون د برخې رئیس وویل: دا طالبان څوک دي؟ دا د سیمې خلک دي، ډیری خلک یې د پیسو لپاره جنګیږي نه د ځینو ایدیالوژیکي دلایلو پربنسټ.

همدارنګه بې وزلي او سیمه ییزې اندیښنې د یاغیانو د زیاتیدو لامل ګرځي، چې دا نظرونه د طالبانو د اوږد تاریخ تبعیض، ناوړه ګټه اخیستنه او ظلم او د یاغیانو له لوري د میرمنو همیشنی ستونزې، له پامه غورځوي.

افغان دولت له مخکې نه د پخوانیو زورواکانو او شتمنو په لاس خراب شوی دی. دا وضعیت هغه د کلونو معامله بښې چې د ثبات او امنیت په نوم ترسره شوي، چې دولت او د هغه نړیوال ملاتړي یې مسؤلیت په غاړه لري. د طالبانو او نورو یاغي ډلو سره سوله کول به په خواشینی سره د میرمنو د حقونو په بیه د یو لنډ مهالي فکر نمونه وي. د ۲۰۱۰ کال د جنوری په میاشت کې داسې څرګند شوه چې افغان دولت د بښنې یو داسې قانون نافذ کړی دی چې هغو جنګي ډلو ته پکې د عدلي تعقیب څخه د معافیت یادونه شوې کوم چې د سولې له بهیر سره یوځای کیږي. نوموړی قانون د هغو نړیوالو وجایبو څخه سرغړونه ده چې افغانستان ورسره ملحق دی او وایي چې ټول هغه کسان باید ترعدلي تعقیب لاندې ونیول شي کوم چې په جنګي جنایاتو، د بشریت ضد جرمونو او د بشر څخه د سوء استفادې نورو جرایمو لکه د جنګ پرمهال جنسي تجاوزونو کې ښکېل وي. پدې کې د ظلم او ستم ټول مرتکبین لکه طالبان او د یاغي ډلو نور رهبران هم شامل دي. البته دا مناسبه او پرځاي خبره ده چې هغه کسان د سولې په بهیر کې شامل شي چې یوائې په کومه وسلواله شخړه کې یې ګډون کړی وي، مګر هغه کسانو چې د نړیوالو حقوقو څخه یې سرغړونې کړې وي او د بشر ضد جرایموباندې مرتکب وي، باید د سولې په بهیر کې شامل نشي او د عدلي تعقیب څخه هم معاف نشي.

د سولې بهیر باید هغه نمونه تکرار نکړي چې له پخوا څخه په افغانستان کې عامه ده چې جنګي ډلې د قانون څخه پورته وي: عدالت او مسؤلیت منل باید د سولې په بهیر کې حیاتي رول ولري سره لدې چې هغه کسان هم باید

ترعدلي تعقيب لاندې ونيول شي چې په شديدو جرايمو او په ټاکنو کې د درغليو او په ګمارنو کې د نورو جرايمو، مسؤل وي. د جرمونو څخه معافيت د ميرمنو او نجونو د حقونو څخه ډيرو سرغړونو ته چې د جنسيتي تبعيض څخه دي، لار هواروي چې دا بيا د هغوي په عام ژوند باندې تيرى کوي. د ميرمنو او نجونو په حقونو باندې يواځې يو څو تيري کوونکي، ترعدلي تعقيب لاندې نيول کيږي: که چيرې نوموړي مرتکبين دولت ته راوبلل شي، نو د سولې بهير به له خنډ سره مخ کړي. دا همدارنګه يو له پخوا څخه له شخړو ډک سياسي چاپيريال د ميرمنو لپاره نور هم ستونزمنوي. که چيرې ميرمنې د مذاکرو په ميز او د سولې او بياپيوستون په بهير کې موجودې وي، نو له هغوي لپاره به د خپلو حقونو څخه د دفاع يو چانس وي.

د افغانستان حکومت له ټولو غاړو ترسخت فشار لاندې دی. هغه کليدي ملتونه چې په افغانستان کې سرتيري لري، ترسخت فشار لاندې دي چې بايد خپل ځواکونه بيرته خپلو هيوادونو ته ستانه کړي. دا فشارونه بايد ددې سبب ونه ګرځي چې افغانانو ته د ګرنديو او بې پامه معاملو په بدل کې فريب ورکول شي او د هغو ښکار شي. دا به د دولت او د هغه د ملاتړو لخوا عميق پام وي چې د سولې او بيا پيوستون بهير برابر امنيت رامنځته کړي چې د ټولو افغانانو حقوق په ځانګړي ډول د نجونو او ميرمنو حقوق پکښې خوندي وساتل شي.

.د دې راپور بشپړ نسخه په انګريزۍ ژبه موجوده ده:
www.hrw.org/asia/afghanistan

## سپارښتنې

د بشر د حقوقو د څار اداره د هغه سند څخه ملاتړ کوي چې د افغان ميرمنو د مدني ټولنو له رهبرانو له لوري "د لند د کنفرانس د وروستۍ ابلاغې په وړاندې غبرګون" ترنامې لاندې يې د 2010 کال د جنورۍ د مياشتې په 29 باندې خپور کړ، او لاندې مطالب پکې شامل دي:

- د ميرمنو څخه بايد په ټولو هغو واکونو او مسايلو کې استازيتوب وشي، کوم چې د سولې او بياپيوستون پروګرام ته وده ورکوي.
- د سولې او بياپيوستون وړانديز شوي امانتي بوديجه چې د افغانانو د سولې او بياپيوستون د پروګرامونو د مالي ملاتړ لپاره ده، بايد ډاډ ترلاسه کړي چې د دغو مالي منابعو يوه برخه چې ټولنو ته د سولې او بياپيوستون لپاره ورکول کيږي، بايد د ميرمنو د حقونو د پياوړتيا او د هغوي د بشري حقونو په برخه کې د سم نظارت او اصلاح په ترڅ کې وکارول شي.
- د ملي امنيتي پاليسۍ او د ميرمنو د استازيتوب د ونډې د اساسي عنصر په توګه د ميرمنو د سولې او امنيت په اړه بايد يو ملي کاري پلان بشپړ شي، او ټول په سولې او امنيت پورې اړوند اړخونه په پام کې ونيول شي[2].

### بيا پيوستون او پخلاينه

**د بشر د حقونو د څار اداره د افغانستان د حکومت څخه غواړي چې:**

- ډاډ ترلاسه کړي چې ټول هغه کسان چې د پخلاينې د بهير سره همغږي وي بايد په څرګند ډول سره يې د ميرمنو او نارينه ؤ د حقونو برابروالى او د هغوي اساسي حقوق منلي وي، البته د زده کړې، د کار کولو او په سياسي ژوند کې د ونډې حقوق هم پکې شامل دي.
- د اساسي قانون څخه د نظارت کميټې (چې ټاکل شوې مګر کار يې ندی پيل کړی) ته دنده ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې بياپيوستون او پخلاينه د ميرمنو د تضمين شويو حقونو څخه سرغړاوی نه کوي.

---

[2] "د لند د کنفرانس د وروستۍ ابلاغې په وړاندې غبرګون" ۲۹ جنوري ۲۰۱۰
http://peacewithjustice4afghanistan.blogspot.com/2010/02/kabul-press-conference-reactions-from.html.

- ډاډ ترلاسه کړي چې د پخلاينې په بهير کې د ټولنې ټولې ډلې شاملې دي، د ميرمنو او قومي او مذهبي لږکو په ګډون.
- د بياپيوستون د بهير څخه مخکې او يا ورسره يوځاي يو مهالويش ته ژمن وي چې د سولې، پخلاينې او عدالت د بهير کاري پلان ته وده ورکړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د سولې، بياپيوستون او پخلاينې د پروګرامونو لپاره په لوړه کچه د سولې جرګه او د سولې ګډ سکرتريت ځانګړې دنده لري ترڅو د بياپيوستون او پخلاينې اغېز د ميرمنو او نجونو په حقونو کې په پام کې ونيسي.
- ډاډترلاسه کړي چې د هغو قوماندانانو شاليد په سم ډول ارزول کيږي کوم چې د بياپيوستون او پخلاينې لپاره په پام کې نيول شوي دي، او په ولايتي او د ولسواليو په کچه سياسي او بروکراتيکي دندې هغو کسانو ته ورنکول شي کوم چې د حقونو څخه د سوء استفادې پخوانی ريکارډ لري، يعنې په ښوونځيو باندې د حملو او په ميرمنو باندې د تاوتريخوالي ريکارډ ونلري. بياپيوستون شوي يا پخلا شوي پخواني قوماندانان هم بايد د دولتي دندو لپاره د بررسی ترطرز العمل تير شي.
- د پخوانيو جګړه مارو په بياپيوستون او پخلاينې کې د اساسي قانون او د بشر د حقونو د نړيوال قانون سره سم د هغوي لپاره د ميرمنو د حقونو د خوندي ساتلو په اړه روزنې ورکول شي (د بېلګې په توګه، د ميرمنو د قانون په وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړل).

## د ميرمنو استازيتوب

**د بشر د حقونو د څار اداره د افغانستان د حکومت څخه غواړي چې:**

- ډاډ ترلاسه کړي چې د سولې، بياپيوستون او پخلاينې د پروګرامونو په اړه په لوړه کچه د سولې جرګه او د سولې په ګډ سکرتريت کې د ميرمنو استازيتوب کيږي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې دميرمنو څخه په غوره توګه استازيتوب کيږي او هغوي دا وړتيا لري چې په اغيزمن ډول ددولت او مخالفينو ترمنځ په مذاکرو کې ونډه لري.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د تصميم نيونې لپاره د ميرمنو څخه په هره کچه، يعنې په ملي، ولايتي، ولسوالی او کليو په کچه غونډو چيرې چې د سولې او بياپيوستون تربحث لاندې نيول کيږي، استازيتوب کيږي. ډاډ ترلاسه کړي چې ميرمنې په شفاف ډول ټاکل کيږي او دا چې د هغوي استازيتوب د ميرمنو فعالو او سياستوالو ته د منلو وړده، دا ځکه چې د دولت پلوۀ تراغيزلاندې استازيتوب څخه ډډه وشي. د افغان ميرمنو شبکه، د ښځو د چارو وزارت او د پارلمان ښځينه غړې بايد د ميرمنو استازيتوب تصويب کړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د ميرمنو څخه دکليو او ولسواليو په کچه استازيتوب کيږي، چې دا د بياپيوستون په پلانونو کې يو کليدي رول لوبوي.
- پدې اړه کوټلي ګامونه پورته کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د دولت په ټولو ادارو او وزارتونو کې د ميرمنو څخه په سم ډول استازيتوب کيږي، د هغو ادارو په ګډون چې د بياپيوستون او سولې په بهير کې ښکېل دي لکه د ملکي سازی او بياپيوستون کميسيون، د سيمه ايزوارګانونو خپلواکه اداره، د کورنيو چارو وزارت، د ولسمشر دفتر، د دفاع وزارت، د ملي امنيت رياست او د کرهنې وزارت.

**د بشر د حقونو د څار اداره په افغانستان کې د نړيوالو ځواکونو څخه غواړي چې:**

- دا درک کړي چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله، د شپې لخوا په کورونو باندې يرغل او توقيف، د ياغيانو په پياوړي کولو کې مرسته کوي، او بايد پلټنې وشي چې کوم نظامي کسان د ناخواله اعمالو مسؤل دي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې هغه نړيوالې نظامي همکاری چې د بياپيوستون او پخلاينې په برخه کې ترسره کيږي، د معافيت يا اداري فساد د زياتوالي سبب نه ګرځي، او دا چې په ټولنو کې د پخلاينې او بياپيوستون هرډول هڅې بايد د هغو کسانو د شاليد او تيرو کړنو په سمې پلټنې او کتنې سره ترسره شي چې د بشر ضد جرايمو په ارتکاب باندې تورن دي لکه د ميرمنو او نجونو په زده کړو باندې يرغل باندې.

- ډاډ ترلاسه کړي چې د میرمنو امنیت د نړیوالو ځواکونو لپاره د سولې او بیا جذب په بهیر کې دهغوي د پام وړ خبره ده، د هغو بودیجو په ګډون چې د سولې او بیاپیوستون د امانتي بودیجې څخه پرته دي، لکه د قوماندانانو د بیړني غبرګون پروګرام.

**د بشر د حقونو د څار اداره د د ملګرو ملتونو او نړیوالو بسپنه کوونکو څخه غواړي چې:**

- د سولې او بیا جذب د بهیر لپاره د نظارت چارې برابرې کړي ترڅو د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د هوکړو خلاف عمل ترسره نشي، د 1325 هوکړې په ګډون کومه چې د سولې او امنیت په راوستو کې د میرمنو ونده حیاتي بولي، 1820 او 1888 هوکړې چې په وسلوالو شخړو کې د جنسي تیري د ممانعت په اړه ده، او 1889 هوکړه چې د جګړې څخه وروسته او د بیارغونې په مهال د میرمنو ونډې مهمې بولي.
- د پریکړو په ترسره کولو کې میرمنو ته مهمه ونډه ورکول او د بیاپیوستون او سولې د پروګرام لپاره د هغوي ونډه د بودیجې د ورکړې مخکینی شرط وګڼي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د بیاپیوستون د بودیجو څخه کورنۍ او ټولنې ګټه اخلې نه پخواني زورواکان.
- د کتنې او نظارت د ادارو په کړنو کې د هغو پخوانیو جنګیالیانو نظارت هم په پام کې نیسې کوم چې د بیاپیوستون او سولې لپاره په پام کې نیول شوي دي په ځانګړي ډول هغه کسان چې د دولتي ځوکیو لپاره ګمارل کیږي. دهغو قیدیانو د خلاصون نظارت وکړي کوم چې د سولې او بیاپیوستون په بهیر کې خلاص شوي وي، او ډاډ ترلاسه کړي چې هغوي د کومې سیاسي مداخلې په ترڅ کې ندي خلاص شوي.

## په سیاسي ژوند کې پر فعالو میرمنو باندې حملې

**د بشر د حقونو د څار اداره د افغانستان د حکومت څخه غواړي چې:**

- د میرمنو په عام ژوند باندې هرډول یرغل په کلکه وغندي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې هغو میرمنو ته پوره امنیت برابریږي کومې چې د تهدید لاندې وي، او د دولت امنیت باید د اړتیا پربنسټ برابر شي نه د هر چا د خوښې پراساس. د کتنې په یو میکانیزم باندې غور وکړي ترڅو ډاډمن شي چې د امنیت برابرول د اړتیا پربنسټ دي.
- په میرمنو باندې د حملې او د هغوي ترور کولو په اړه پلټنو ته لومړیتوب ورکول شي، ډاډ ترلاسه کړي چې هغه حملې او وژنې چې راپور یې ورکول کیږي، په سم ډول ثبتیږي او مجرمین یې ترعدلي تعقیب لاندې نیول کیږي او د مخنیوي لپاره یې کوټلي ګامونه پورته کیږي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې میرمنې په کلیدي دندو لکه وزارتونه او معینیتونو، باندې ګمارل کیږي.

## د نجونو په زده کړو باندې یرغل

**د بشر د حقونو د څار اداره د افغانستان د حکومت څخه غواړي چې:**

- په زده کړو باندې د ټولو شویو حملو او یرغلو پلټنه او مسؤلین یې د قانون منګولو ته وسپاري.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د معارف وزارت، د کورنیو چارو وزارت، لوي څارنوالی او د عدلیې وزارت، په ښوونځیو باندې د حمله کوونکو په اړه معلومات سره شریکوي، او دغه معلومات په لوړه کچه د سولې شورا، د سولې، بیاپیوستون او پخلاینې پروګرامونو لپاره د ګډ سکرتریت او د هغو کمیټو سره شریکوي کوم چې د امنیت اړوند قیدیانو ته کتنه کوي (جون ۲۰۱۰ کې جوړ شوی دی).
- د یاغیانو له ډلو سره هرډول اړیکو کې باید په ښځینه زده کوونکو، ښوونکو او ښوونځیو باندې د یرغل د درولو غوښتنه وکړي.
- پوره شمیر ښځینه ښوونکې وګماري او د نجونو پوره اندازه ټولګي او ښوونځي جوړ کړي. د ټولنو سره پدې اړه مشوره (د هغو ټولنو په ګډون له کومې چې د سولې او بیاپیوستون لپاره پ ګوته کیږي) وکړي چې څرنګه د نجونو او میرمنو زده کړو ته وده ورکول کیږي او ښوونځیو ته لاس رسی پیدا کولی شي، او همدرانګه هغوي ته د ښلو ښوونځیو د جوړیدو او ترانسپورت خبره وکړي. (زمونږ د ۲۰۰۹ د ډسامبر د میاشتې راپور وګورئ "مونږ د نړۍ ژمنې له ځانه سره لرو: په افغانستان کې د میرمنو حقوق").

## انتقالي عدالت

**د بشر د حقونو د څار اداره د افغانستان د حکومت څخه غواړي چې:**

- دا درک کړي چې يوه دايمي سوله به د تيرو جرمونو په ګډون ټولي په مخ کي پرتي ستونزې او ناخوالی هواري کړي. د اجتماعاتو کارول لکه د سولي مشورتي جرګه ترڅو د لسيزو جګړو د زخمو د جوړيدو لپاره د حل لار پيدا کړي، همدارنګه دا چې څرنګه د جګړې قربانيانو ته عدالت او خونديتوب رامنځته شي او همدارنګه زيان منونکو ټولنو ته خونديتوب برابر شي.
- د بخښني قانون تکرار کړي، او ډاډ ترلاسه کړي چې هغه کسان چې د بشر په حقونو باندی د تيري د باور وړ تورونه ورباندي موجود دي، د سولي او بيا پيوستون د بهير څخه وباسي.
- د بياپيوستون د بهير څخه مخکي او يا ورسره يوځاي يو مهالويش ته ژمن وي چې د سولي، پخلاينې او عدالت د بهير کاري پلان ته وده ورکړي
- د شکاياتو د بررسي ميکانيزم پياوړی کړي، ترڅو د ټاکنو ټولي درغليو ته کتنه وکړي او همدارنګه هرډول سياسي او قضايي ګمارني په سم ډول سره وشي ترڅو هغه کسان له دولتي ادارو څخه وايستل شي کوم چې د بشر ضد جرايمو، جنګي جناياتو او نورو جرايم کي ښکيل دي.
- د سولي او بياپيوستون لپاره د شخړو د هوارولو او د مسؤليت منلو يو شفاف ميکانيزم جوړ کړي، د هغو اقداماتو په ګډون د دولتي چارواکو په وړاندي ناخوالی له منځه يوسي. ډاډ ترلاسه کړي چې هغه دولتي چارواکي چې نوموړي ميکانيزمونه تطبيقوي، پخپله د سيمه ييزو ټولنو لخوا په نوموړو شکاياتو کي ښکيل نه وي.

## د حکومتداری اصلاح

**د بشر د حقونو د څار اداره د افغانستان د حکومت څخه غواړي چې:**

- ددې لپاره چې د جګړې ځيني په مخ کي پرتي ستونزې هواري شي، او ددايمي سولي هيلو ته وده ورکول شي، د دولت د اصلاح په برخه کي کوټلي ګامونه پورته کړي، ترڅو دولت وکولاي شي چې د خلکو اساسي حقوق او آزادی په ښه توګه خوندي وساتي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د سياسي، دولتي او ملکي خدمتونو د څوکيو د ټولو کانديدانو واک په خپلواک او آزاد ډول ترکتني لاندې نيول کيږي ترڅو هغه کسان چې د بشر د حقونو څخه د سرغړاوي په مهمو جرايمو باندې تورن دي يا د وسلوالو ډلو يا جنايي فعاليتونو په ترسره کولو کي په لاس لرلو تورن دي، حذف کيږي. دا ګار د ګمارني د قضايي تعييناتو او د ټاکنو د خپلواک رياست د پياوړتيا سبب ګرځي، او همدارنګه پدې سره د پخوانيو جنګياليو د بې عدالتيو د بررسی سبب ګرځي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د ځواب ويلو مراجع چې اوس اوس جوړې شوې او پياوړتيا ورکول کيږي، په شفاف ډول هغو پلټنو ته مخ کوي په کومو کي چې د بشرد حقونو څخه سرغړوني او د دولت او دولتي خدمتونو په ټولو کچو کي فساد کول شامل دي، او هغه کسان چې ګرم ګڼل کيږي د خپلو څوکيو څخه وشړل شي او په سم ډول ترعدلي او قانوني تعقيب لاندې ونيول شي.

جولای ۲۰۱۰